# د ښه ملګري او بد ملګري مثال د مشکو والا او د پخ (آهنګر دی)،

ابو موسی رضي الله عنه له پیغمبر صلی الله علیه وسلم څخه روایت کوي چې فرمایي: "د ښه ملګري او بد ملګري مثال د مشکو والا او د پخ (آهنګر دی)، نو کوم چې د مشکو والا دی: یا خو به درته مشک ډال کړي، یا به یې ترې واخلې او یا خو به ترې ښایسته بوی درشي، او پخ چې دی؛ نو یا خو به دې کالي وسوځي، او یا به ترې بد بوی درشي«.
[صحيح] [متفق علیه دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم د دوه ډوله خلکو مثال بیان کړ: لومړی ډول: نېک او صالح ملګری چې د الله لورې او هغه څه ته دې لارښوونه کوي چې هغه پرې خوشحالیږي، او په اطاعت کې دې مرسته کوي. نو د ده مثال لکه د مشکو پلورونکي دی چې یا خو به یې درکړي، یا به یې ترې واخلې او یا به ترې ښایسته بوی درشي. او دویم ډول: بد ملګری؛ چې د الله له لارې دې منع کوي او د ګناهونو په کولو کې دې مرسته کوي او بد کارونه به ترې وینې او د هغه په څېر خلکو د ملګرتیا او ناستې پاستې له امله به د خلکو مخ در اوړي. نو د ده مثال د هغه پخ (آهنګر) په څېر دی چې اور پوکوي؛ نو یا خو به د اور سپرغ دروالوځوي او کالي به دې وسوځوي، او یا خو به ورته د نږدې والي له امله بد بوی ومومې.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3127